سلمان سلیم ۲۰۱۷/۰۸/۲۹

زموږ نوښتونه غوړیږي

له نن څخه کابو اوه میاشتې وړاندې د یوې غونډې برخه وال وم. دا غونډه په لغمان ولایت مقام کې جوړه شوې وه. دلته ولسي خلک راټول وو. د ولایت مقام د اسلا دفتر مامورینو راته ویل چې موږ د والي صیب په رهبرۍ دا پروګرام د دې لپاره جوړ کړی چې د لغمان ولایت د ټولو ولسوالیو او مرکز له ولسونو څخه د دوی لومړیتوبونه واخلو او کومې پروژې چې دوی غواړي ورته یې عملي کوو.

دا غونده د لغمان ولایت لپاره د ۱۳۹۷ مالي انکشافي پلان جوړونې په موخه جوړه شوې وه. دلته د لغمان ولایت مرکز او پنځه ګونو ولسوالیو قومي مشران، ځوانان، علما، ژورنالستان او مدني فعالان راغلي وو. ټولو له یو بل سره له نږدې کار وکړ. د مرکز او پنځه ګونو ولسوالیو استازو په داسې یو پروګرام کار وکړ چې د خپلې سیمې لومړیتوب معلوم کړي او کومې پروژې چې دوی ته مهمې دي باید دولت ته یې وړاندې کړي.

د هرې سیمې اوسېدونکي سره کېناستل د خپلې سیمې لپاره یې اړینې پروژې وټاکلې او د ولایت محترم مقام په اختیار کې یې ورکړې. باور وکئ ما دومره نه ګڼله چې دا پروژې به حکومت اخلي او بیا به یې مرکز ته رسوي او له هغه ځایه به یې بودیجه لغمان ولایت ته انتقالوي. موږ په هغه غونډه کې ټولې یو پنځوس ټولګټې پروژې وړاندیز کړې او دولت ته مو په اختیار کې ورکړې. دا نو د لغمان د هرې سیمې پروژې وې چې فکر کوم د یوې لرې پرتې ولسوالۍ لومړیتوب به هم له پامه نه وي غورځول شوی.

دا خبره همغلته پاتې شوه. ما ویل خو دا پروژې به دوی له ځانه سره ساتي او شاید په کراره یې مرکز ته ورسوي، که هغوی منظور کړې هغه ده، کنه دوی خو پرې خپل پروګرام تر سره کړ. خو زه له دې نه وم خبر چې د لغمان والي دومره شله سړی دی چې کله یې په کوم کار پسې راواخیسته، ولاکه یې تر هغې پرېږدي چې تر سره کړی یې نه وي. نن چې د هغه د فیسبوک خبر ولوست یو دم هماغې غونډې ته ولاړم.

و لا چې د لغمان والي، هڅې، نوښت او ابتکار مې ومنه. تېر کال یې د خپل نوښت او ابتکار پر مټ د لغمان لپاره د څلورو ریاستونو په چوکاټ کې د څو پروژو بودیجه مستقیمه لغمان ته انتقال کړه او دا ځل یې نو دا دی د لسو ریاستونو لپاره د یودېرشو لپاره د بودیجې په انتقال پسې راخیستې ده. اوس مې د ده پر وال وکتل چې د لسو ریاستونو په چوکاټ کې یې د یو دېرشو پروژو د بودیجې د انتقال په موخه اړوند ریاستونو ته لارښوونه کړې ده. دا یو دېرش پروژې د هغو یو پنځوسو له جملې څخه دي چې ولس خپل حکومت ته وړاندیز کړې وې.

دا ټولې داسې پروژې دي چې د سمې خلکو ته له بل هر څه ډېر ارزښت لري؛ ځکه د دوی ژوند ورسره تړلی دی. په زړه پورې خو لا داده چې د دغو پروژو د تطبیق لپاره به له مرکزي حکومته ولایت ته بودیجه په واک کې ورکول کېږي او ټولې تدارکاتي چارې به یې همدلته په ولایت کې تر سره کېږي. اوس نو موږ له دې احتیاجه خلاص یو چې مرکزي حکومت ته د هرې پروژې په اړه جلا جلا وړاندیز وکړو.

اوس نو دا دی د لغمان والي په نوښت او ابتکار دا دی دا یو دېرش پروژې مرکز ته د منظورۍ په موخه ورواستول شوې چې د له منظورۍ وروسته به یې ټوله بودیجه د ولایت په واک کې ورکول کېږي او له همدې ځایه به په مصرف رسېږي. د لغمان والي پر صداقت، پاک نفسۍ او هڅو مې باور نور هم ډېر شو. ما ویل خدای دې ورته نور هم توفیق ورکړي چې د لغمان د ابادۍ لپاره نورې منډې هم ووهي.

پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ